سندریزې کیسې

د لغمان د ولسي شاعر شیخ احمد خان لومړی شعري ټولګه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

دلال پاچا ازمون په زیار

۱۳۷۷ لمریز

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

سندريزې کيسې

PROPERTY
ACKU
7748

د لغمان د ولسي شاعر شيخ احمد خان

شعري ټولګه

د لال پاچا ازمون په زيار

۱۳۷۷هـ.ل

له درانه اسد الله سايي څخه منه چې په خپلې سربندنې
يې د پښتو د ولسي شاعرې بنايسته ډېرې بېلګې خوندي
کړې او ولسي شاعران يې يو ځل بيا د ولس په غېږ کې
ونمانځل.

از مون.

له درانه عاشق الله فرياد نه يوه نړۍ منه چې د دغې
ټولګې په سمونه کې يې زيا سره زيار وګاله هيله ده چې
فرهنګپال وزير اپريدی څخه غرونه غرونه منه چې د
څو ټولګو د ليک لګښت يې په غاړه واخيست.

کتاب پېژندنه:

نوم	:	سندريزې کيسې
ويناوال	:	شيخ احمد خان
د چاپ کال	:	۱۳۷۷ل/ ۱۹۹۸ز
د چاپ شمېر	:	۵۰۰ ټوکه
خپروندی	:	دانش کتابپلورخی. ډکي نغلبندي. قصه خواني. پېښور
ليککر	:	صديق الله بدر

شیخ احمد خان او د هغه ژوند او فن

شـیـن چمن و کـه خـروش، بـلبلان کړخي تازه
چـې د حق پیالې کړې نوش، زاهدان کړخي تازه
شونـدې ستا هسې خوږي دي که بې وخکې یو څوک
لـبـونـی مست و بې هوش په بیابان کړخې تازه

د سر خبرې:

ادب په برخه کې هېواد او ولس ادبي بهیر خانته بېل بېل خصوصیات او خانګړنې لري، دا چې د کوم ولس یا هېواد د ادبیاتو د شکل او محتوی له مخې کوم پراوونه وهلې یا په کوم پراو کې ولاړ دي څېړنه او راسپړنه یې د هماغه هېواد په ادب پوهانو پورې اړه لري، یوازې د نورو له ادب سره د بلدتیا لپاره د هغو د خپنو نمونو ژباړه د ضرورت له مخې په نورو هېوادونو کې خپرېږي. زما هدف له دې لنډې یادونې څخه دا دی کله چې مور په ادبیاتو یا په شعر او شاعرۍ څه وایو یا لیکو نو خبره به جوته وي او هغه دا چې هدف زمور خپل ادب دی نه نړېوال ادبیات او کله چې په خپلو ادبیاتو خبرې کوو د فکر نیلې مو سمدم دې خوا ته ځغلي چې پښتو ادبیات په دوه لویو برخو ویشل کېږي، لیکنې ادب او ولسي یا ګړنۍ ادب چې هر یو یې بیا په خپل کور کې د فورم له مخې مختلف ډوله لري، خو خورا غني برخه یې همدغه ولسي ادب دی چې زمور تر بحث لاندې موضوع هم ولسي ادبیات او د بحث ور شاعر هم ولسي شاعر دی.

ولسي ادبیات په عملي صورت لوبې، مقام، بابولالې، چاربیتې، بګتې، نیمکی، سروکي، کیسه، داستان او لنډی په خپله لمن کې رانغاړي چې دغه هر فورم یې بیا پرته له لنډیو په خپل منځ کې د شعر د سرونو، بندونو، مضمونونو، سندریزو مقامونو له مخې په بېلا بېلو ډولونو ویشل کېږي.

دا چې وایي ولسي شعر د ولس غږ دی دا یو حقیقت دی، نو په همدې سبب وایو چې ولسي شعر زمور تاریخ او زمور ژبه ده دا په دې مانا

چې ډېرې تاریخي پېښې او مهمې واقعې ان تر دې چې د سیمې ډېر نومیالي قهرمانان او مهم اشخاص د همدې ولسي شاعرانو د شعرونو له مخې چې دوی یې ذکر کړی دی لاسته راغلي او په کتابونو کې ثبت او تلپاتې ژوند ور په برخه شوی دی.

ولسي شاعرانو تل مهمې پېښې د ولسي ادب په یوه خواړه او پراخ لمنه فورم چاربیته کې بیان کړي دي نو له لنډیو پرته چاربیتې د ولسي ادبیاتو د زړه حیثیت لري او په ولسي ادبیاتو کې یې ځای خانګړی دی، اګر چې خینې پېښې د شاعرانو له خوا په لنډیو، سروکو او لوبو کې هم بیان شوي دي چې هغه تلمیحا او په لنډ ډول پېښې ته اشارتا د اورېدونکو پام ور اړوو لکه

دا سروکی:

راځی دلبرې- امیر جازونه جوړوي فرانس ته خینه - خانه راخه

په دې سروکي کې د امیر امان الله خان فرانسې او نورو اروپایي هېوادونو ته د ده هغه تاریخي سفر ته اشاره ده چې په خواړه طرز کې له هماغه وخته تر اوسه پورې خوله په خوله تر موږ را رسېدلی دی چې په دې ترتیب د اورېدونکو پام هغې موضوع ته ور اړوي، مګر په چاربیتو کې تقریبا ټولې کیسې یا پېښې په مفصل ډول راوړل شوي دي، ان تر دې چې په کیسه کې شامل ټول لوبغاړي سجل او سوانحو سره یادېږي او لکه د یوې لنډې کیسې د پلاټ په شان ټولې پېښې پکې نغاړل کېږي.

داسې ډېرې پېښې شته چې په هغو باندې لیکوالو یا شاعرانو بشپړ کتاب یا په نظم او یا هم په نثر لیکلی دي، مګر هماغه پېښه بیا د یوه ولس شاعر له خوا د یوې چاربیتې په څو بندونو کې تر هاغه بل خوږ، مفصله او زړه راکښونکی لیکلې ده، د ساري په توګه د امامانو د کربلا د جنګ کیسه باندې کتابونه لیکل شوي دي، مګر همدغه تاریخي پېښې زموږ یوه ولسي شاعر خدای ﷻ دې عمر ورکړي پاینده محمد کړه والړ داسې کښکې.

نبنه یوسه سلام زما دلبر ته
مرسلانو سردار خیر البشر ته

تر سر لیک لاندې او بل ولسي شاعر خدای ببنلی سلطان محمد تر دې سرلیک لاندې چې:

یوه ورځ جبرائیل راغی ویل و پاکه سروره
راغلی یمه تا ته حکم شوی د اکبره

دوه مختلفو فورمووالا چاربیتو په چوکاټ کې دومره په خوږه انداز کې

ویلي دي چې کله ور سره د ساز څپې ملګرې شي نو د هر اورېدونکي سترګې له مړو اوښکو ډکې شي.

ولسي شاعرانو تل فی البدیهه شعرونه ویل او د موسیقۍ له پردو سره به یې مله کول، اوس هم په دې برخه کې دغه لړی روانه ده، او خینې شاعران خو لا په خپله سندرغاړي او مجلسیان وو، نو په همدې سبب په کلیو او باندو کې سندرغاړ ته شاعر ویل کېده اوس هم کله کله دغه مغالطه پېښېږي. کله به چې په یوه واده کې دوه ډلې شاعران برابر شول نو یوه به له بلې څخه د شعر په ژبه پوښتنې کولې او سوال او خواب جاري و او دا لړی به حتی تر شپو شپو روانه ه او مینه وال به ورته په سپېره میدان لاس تر زنې ناست وو.

ولسي شعر هم د شکل او هم د محتوا له مخې د خلکو له پوهې سره سم او برابر ویل کېږي نوځکه د خلکو په زړونو کې ځای نیسي، بله دا چې همدا ولسي ادب و چې لیکنی ادب یې له خانه سره په دروازه را ننویست او کوربه یې ترې جوړ کړ. د ولسي ادب لمن نسبت لیکنې ادب ته پراخه او بډایه ده او د کمیت او کیفیت له مخې ولسي ادب شتمن دی خو د افسوس خبره دا ده چې له یوې خوا ولسي شاعران تقریبا ټول نالوستي وو او له بلې خوا که یو نیم به چې د عنعنوي زده کړې سره لږ لیك او لوست هم کولی شو د هغه هم دې خبرې ته پام نه و چې خپلې خورې ورې ملغلرې راټولې او په یوه امپل کې یې داسې ویل کړي چې په راټلوکې وخت کې د پښتو ټاوې د غاړې هار شي او د دوی یاد هم ژوندی وساتي. دوی به ټل د خپلو شعرونو مجموعې او کتابونه خپل شاګردان بلل او خکه خو به یې خپل ټول شعرونه هغوی ته ور زده کول چې بیا به د هغوی له مرګه سره سم د دوی شعرونه هم د مرګ کندې ته لوېدل او د همدا خبره ده چې مور د خپلو تېرو سلګونو شاعرانو د شعرونو مجموعې لا څه چې حتی مکملې نمونې یې په لاس کې نه لرو او یوه نیمه مجموعه یا یادونه چې په دې را وروسته وختونو کې د پښتو ادب د مینه والو او ادب پالونکو له خوا راټول او چاپ شوي دي، دا هم غنیمت بولو لکه د ملنك جان او بهایي جان... مجموعې او یا هم د خوان شاعر اونه سترې کېدونکي پښتو ادب پال لعل پاچا ازمون له خوا په لنده موده کې د یو شمیر دولتی شاعرانو مجموعې او د همدی شعرونو را ټولول او چاپول. چې خدای دې وکړي دا توپاني بېړۍ په دې بحراني سړه هوا کې د ساحل غاړې ته ووځي.

دریم

ځرنګه چې زمونږ ټولنه یوه مذهبي ټولنه ده او زمونږ خلك د همدغسې کلکې مذهبي او دیني عقیدې خاوندان دي، نو زمونږ ولسي شاعر هم د همدغې ټولنې محصول دی او د همدغې لارې لاروی، نو ځکه زمونږ د ولسي شاعرانو په شعرونو کې تل د مذهب رنګ غالب وي، اګر چې زمونږ د ولسي شاعرانو په شعرونو کې درې دوله موضوعات راوړل شوي دي خو د دوی د هستونو په سلو کې اتیا برخه یې دیني، مذهبي او اخلاقي خواوې دي او پاتې په سلو کې شل عشقي نظمونو او څه د وخت نهمې ښېنې او تاریخي سایل دي لکه کلیوالي جنګونه، خدایي افتونه، لکه قحطي، قیمتي، وبا او سیاسي بدلولونه خو په دغو ټولو نورو کې هم مذهبي رنګ له ورایه خلېږي او د دوی د فکر د بیان چوکاټ هماغه لوبې، چاربټې، رباعي، داستانونه... دي چې د غزل برخه یې همدغه رباعي ګانې دي چې د مقام په نوم یادېږي کومې چې دولس څپه ییزې لیکل کېږي که له دې دولس څپو څخه کمه یا یوه څپه پرې ورزیاته شي نو بیا د ربائي له کور څخه "البته د موسیقي د مقام په اساس" وځي.

سره له دې چې ولسي شعرونه په ساده لهجه او ساده الفاظو او د عوامو له پوهې سره سم ویل شوي دي خو دا سادګي په دې مانا نه ده چې د ادب د هرې ښېګنې څخه ساده او خلاص او په هر لحاظ ساده او بسیط کلمات اوږل شوي دي، بلکې په دې شعرونو کې هماغه ډول چې ساده ګي ده تکلف هم نه لیدل کېږي، سلاست او رواني لري، سبك، استعاره کنایه... او نور لفظي او معنوي صنایع ښه ډېر پکې موندل کېږي خو دغه ادبي صنایع هم هماغسې د کلیوالي مینې او حیا سره تر پلولاندې دیدنونه، د مازیګر ګودرونه ښکلا، د شنو خالونو خلا، ژېړ پېژانونه او خونړی چارګل په رازاو رمز سره بیان شوي دي او د معشوقو وفا او جفا د غمازانو ناخوالې او نادودې، دېرې او حجرې کټونه او چلمان، رباب او منګی... ډېر ښه په انداز کې بیانوي او د هر یوه لپاره یې د خپل ادبي صفت ازربښت ساتلی دی، د ساري په توګه د یوه ولسي شاعر د یوې غزلې په مقطع کې د مشعوقې جفا د قصاب له تخت زړه سره په څومره ساده ګی اما مهارت سره ادا شوې ده، دغه تشبیه وګورئ.

له خوبانو ګیله مه کوه حنانه
دلسوزي ده چا لیدلې په قصاب کې

د دې خبرې کول هم ضروري دي چې د دې ولسي شاعرانو له برکته زمونږ د موسیقي نړۍ هم ودانه ده، ځکه هغه شعرونه چې دوی په خپل وخت

کې په کومو طرزونو کې ویلي دي زمونږ د موسیقۍ دنیا یې هم رنګینه کړې او هم بدایه کړې ده، که مونږ نوي طرزونه لرو، نو هغه ډېر کم دي، ټول یې هماغه پخواني طرزونه او مقامونه دي چې له همدغه پخوانیو ولسي شاعرانو مونږ ته راپاتې دي او زمونږ را وروسته سندر غاړي او لسي شاعرانو یا د شعر په هسته یې (مطلع) او یا د شعر په انتره (بند) کې یو څه سهلابیز تغیر راولي او هغه ته بیا د نوي کمپوز او طرز نوم ورکوي خو که دا نوی هم ولولو سرچپه یې بیا هم زمونږ د تهرو ولسي شاعرانو نوښت او زیار ګالل دی نو زه دا په جرئت ویلی شم، که زمونږ نوي طرز جوړ هم نه کړو او هماغه په لس ګونو پخواني طرزونه له سره تازه کړو او نوي شعرونه او نظمونه په هماغه قالبونو کې ور واچوو، نو زمونږ طرزونه له سلګونو ځخه اوړي او زمونږ د ولسي ادب لمن له دې شتمنې ډکه ده.

په ولسي ادبیاتو باندې خبرې کول یا څه لیکل کلونه او کتابونه غواړي او دا د یوې سریزې یا مقالې له حوصلې ځخه وتلې خبره ده دا یو څو کربنې مو د دې لپاره ولیکلې چې زمونږ د بحث لاندې ولسي شاعر د شعرونو د څېړلو یا په هغوی د پوهېدلو لپاره یو پول موجود وي نه دا چې دا شننه ګویا هر اړخیزه او کره ده، خواوس مونږ د همدې شننې په رنا کې د شیخ احمد خان د شاعرۍ او هنر کړوړو دنیا ته تم کېږو.

ژوند لیک:

د پښتو ژبې د ولسي شاعرانو به برخه کې دا ستونزه تل تر سترګو کېږي چې د هغوی د زوکړې او مرګ نېټې نه وي معلومې او د اشعارو مجموعې یې په لاس نه راځي دا په دې سبب چې اکثره ولسي شاعران لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه نالوستي دي او کوم یو یې چې عنعنوي سواد هم لري هغوی هم د پښتنې عمومي کلتور سره د دې جوګه نه دي چې خپل د پیدایښت نېټه دې ثبت کړي او یا دې خپل شعرونه را ټول او خوندي کړي نو کله چې په ولسي شاعرانو ځېړنه کېږي د هغوی د مرګ او پیدایښت نېټې اټکلي دي یا د کومې مهمې واقعې له کال سره یې دا برابره کړې یا د کوم سیاسي بدلون ورته وتاکي چې به دې کال کې فلانی خلمی و او یا یې په فلاني شعر کې د دې یا هغې دورې یادونه شوې ده نو حتما په دې وخت کې دومره کلن و او داسې نورې خبرې او دلایل. کله د یو شاعر یا لیکوال د نږدې دوستانو له خولې ځنې شیان لیکل کېږي خودا ټول اټکلي او د حدس

او ګومان په اساس وي نو په همدې لحاظ د شیخ احمد خان د ژوند او مرګ په باب څه لیکل هم اسانه خبره نه ده بلکې د پورته یادو شویو ستونزو یوه کړی ده.

کوم وخت چې زه زده کوونکی وم او د خپلې شخصي مینې له مخې مې د لغمان ولایت د مړو شوو او ژوندیو شاعرانو په هکله خانته معلومات راغونډول خو نه د کوم میتود په اساس او نه د کومې وظیفې له مخې بلکې ډېر ابتدایي او په شخصي لحاظ مې دا کار کاوه، نو د دوی د کلام نمونې مې د محلي سندغاړو د هغوی د شاګردانو او د سیمې د ټوکیانو له خولې ولیکلې یو نیم شعر به چې په کوم اخبار یا مجله کې راته په سترګو راغی، هغه به مې هم له ځان سره یادداشت کړ او خوندي به مې وساتل مګر د هغوی د ژوند زمانه او ژوند پېښې مې که له هر چا څخه وپوښتل د خینو خاطرو په شکل به خلکو یو څه راته اشارې کولې، ډېر کتابونه او جملې مې هم لټولې دي خو هېڅ په لاس نه دي راغلي، خو هغه څه چې په لاس راغلي د هغو له جملې څخه به د شیخ احمد خان په برخه کې لاسته راغلي معلومات وراندې کړم وایي چې: شیخ احمد خان د لغمان ولایت د ده زیارت د کلي اوسېدونکی و د ۱۲۰۰۰ هـ ش کال په شاوخوا کې زېږدلی و د (٦٥ کالو په عمر په ۱۲۲هـ کال کې د تیمورشاهي دورې په پای کې مړ شوی دی او د میترلمک په هدیره کې ښخ دی. د تیمور شاه په عصر کې یې دولتي ربته او معاش هم درلوده او د ده د علم او فضلیت او خواږه شعر اوازه په هره خوا کې خوره وه او د پورته شعرت خاوند و، ده په عربي او پښتو ژبو شعرونه ویل، په لغمان او ننګرهار کې د ده شعرونه په احمد خاني شهرت لري او د هغې خوا شاعران دی په استادی منې او په استادی یې افتخار کوي، دیوان نه لري، پاتې اشعار یې په متفرق ډول د خلکو په زړونو کې خوندي دي، دی د نولام د ملا فیض محمد شاګرد و د قرآنکریم تفسیر یې په پښتو نظم کړی و، خودغه قیمت بها اثر اوس ورک دی...

دا وې د شیخ احمد خان په هکله رسمي او خپرې شوې خبرې. د شیخ احمد خان د اوسېدو د ځای په هکله او د ده د علم او فیضلت په باره کې او دا چې دی د مهتر لام بابا د زیارت فقیر او مرید و د راویانو په وینا کې هېڅ شک څکه نه پیدا کېږي چې د موضوع ته ده هم څو ځایه اشاره کړې ده کله چې وایي:

یا:

احمد خان زما نامه ده یم مریی د میترلام

یا دا چې:

راشئ ده زیارت ته هر شاعر کړي په ما غوړې

خو په لاس ته راغلو شعرونو کې یې داسې څه نه شته چې په هغو کې ده خپلې وظیفې یا رتبې او منصب یا د اوسېدو زمانې ته پکې اشاره کړې وي او نه د خپل زمانې د داسې شاعر یا مهم شخص یادونه په شعرونو کې شته چې د هغه له مخې سړی یو څه اټکل وکولی شي. یوازې د میر هزار په نوم د پوه شاعر یادونه یو خای داسې راغلې چې:

له کړې تر چپلیاره که راتول شي شاعران
خدایږو زه هېڅ نه وېرېږم مر هزار له دېر چته

داسې معلومېږي چې د ننګرهار په شاوخوا سیمو کې د میر هزار په نوم کوم قوي شاعر د ده هم عصره تېر شوی دی خو د په دې برخه کې هېڅ په لاس کې نه شته.

کله چې مورخین د څېړنې په کار کې د نېټې ذکر په مجهول ډول کوي یانې ووایي چې د فلاني کال په شاوخوا کې نو موخه یې دا وي چې یا به د همدې کال څخه د ګوتو په شمار یو څو کاله تر مخه یا وروسته دغه پېښه منځته راغلې او زیات واټن پکې نه راځي، نو په همدې اساس که اوس مور د شیخ احمد خان په هکله دغه وړاندې وروسته والی لس کاله په نظر کې ونیسو نو په مخکنې حالت کې ۱۱۹۰ هـ ش کېږي او په وروستي صورت کې ۱۲۱۰هـ ش ترې جوړېږي که دا مور د ده د زېږېدنې کال وګڼو او بیا د تیمور شاه دوره هم ور سره یاده کړو نو هېڅ منطقي ارتباط نه پیدا کوي، ځکه تیمور شاه له (۱۲۵۲ - ۱۱۷۲ هـ ش) پورې شل کاله پاچاهي کړې ده چې په دې ترتیب هغه څه چې مور د تیمور شاه دوره او د ده د پیدابنت کال بولو په دې وخت کې د تیمور شاه د مرګ (۱۷) کال دی، یانې د تیمور شاه په دوره کې دی زېږېدلی نه دی، پاتې لا د څوکې او منصب خبره او که د ده د مرینې کال ۱۲۲٤ هـ ش او عمر ٦٥ کاله چې قطعي حکم په دې شوي دي سم وبولو او هغه سند وتاکو او له دې سنې څخه د ده عمر کم کړو نو بیا ۱۱۵۹ هـ ش کال په لاس راځي نو په دې وخت کې شیخ احمد خان څوارلس کلن تنکی

خلمی حاسبېږي چې بیا هم د ده د منصب او معاش خبره د تیمور شاه په دوره کې د تأمل وړ ده. او دا ټولې خبرې د راتلونکو څېړنو لپاره ښې دي او د اوس وخت لپاره زموږ هېڅ ستونزه په دې نه حل کېږي خو یوه ځبره ترې جوتېږي چې شیخ احمد خان د تیمور شاه په دوره کې که پیدا شوی وی نو په دې دوره کې نه دی مړی شوی او نه یې په دې دوره کې کوم مسوولیت او مصروفیت درلود.

د ده یو ورور و، چې ملا شیخ محمد حسین نومېده، دېر کلونه ژوندی او د ده زیارت د جومات امام وه او د اولادونو به باره کې یې معلومات نه شته.

د شعر او شاعری په برخه کې:

شیخ احمد خان د لغمان ولایت د ولسي شاعرانو په کتار کې د ځانګ مقام خاوند دی او تقریبا ټول را ورسته شاعران یې په استادی منې او په شاعری کې ورته خاصه عقیده لري، ځرنګه چې شیخ احمد خان د مهترلام صاحب د زیارت شیخ، او تل یې په خدمت کې و له بلې خوا یې علمي درجه هم درلوده او په دیني علومو کې د استادی درجې ته رسېدلی و او هم په شاعری کې د دېرې قوي قریحې خاوند و، دغه درې صفتونو د ده لپاره د خلکو په زړونو کې د خای ورکولو او ده ته د احترام ساتلو دېره زمینه مساعده کړې وه، ان تر دې چې د ده له مرګ وروسته به د جمعې په شپه خینې کسان د ده د قبر تر څنګ ځله کېدل تر څو یې شعر پوخ او ښه شاعر ترې جوړ شي، حتی خینې یې په شعر کې د کرامت خاوند بولي او خپله شاعري د ده د زیایت کولو وروسته د ده د قبر زیارت کولو نتیجه بولي لکه چې وایي:

شیخ احمد خان په قبر شو شعر مې جاري واړ

خینې لکه ځنګه چې وویل شول استاد او سرکښ بولي لکه چې وایي:

سر حلقه د شاعرانو احمد خان دی
زه حنان د اوسنیو لکه پلار یم

د ده د شعر مینه وال او هغه سپین سری او شوقیان چې د ده شعرونه ورته یاد دي د احترام او عقیدت له مخې ده ته د بابا لقب ورکړی

اتم

او کله چې د ده د شعرو په باره کې بحث پرې کوي نو وايي دا شعر د احمد خان بابا دی.

د جولې او منځ پانګې له مخې:

شیخ احمد خان لکه د نورو ولسي شاعرانو په څېر په هماغو ولسي وزنونو او فورمونو کې خپله شاعري کړې ده خو په لاس راغلي اشعار يې د چاربيتو، لوبو او يو نيم غزل په چوکاټ کې دي. ډېرې خوښې کيسې يې د چاربيتو په فورم کې نظم کړي دي چې د سندرغاړو په خوږو اوازونو کې د ټنډ ټکور سره يو ځای د خلکو غوږونو ته رسېدلي دي.

د شیخ احمد خان شعرونه روان او بې تکلفه دي او زيات پښتو سوچه لغات يې هم د مروجې پښتو - دريې او عربي لغاتو تر څنګ استعمال کړي دي، تر څو ده د خوښې قافيه ماته نه شي، د شعر هر بيت او هره کړۍ يې د خلکو له پوهې او فرهنګ سره برابر او د خلکو په ژبه ويل شوي دي، د ده په شعرونو کې هم ودونه، ګودر، مازيګر، اتڼ، ميلې، ټغښونه، رسمونه او رواجونه... کړې په کړې اوږه په اوږه بدرګه کېږي او نور کليوالي بنکلي الفاظ په بنکلي او ساده انداز کې داسې راوړي چې د هر اوربدونکي زړه ورته مېښ مېښ کېږي.

نن بيا لېونی له موجه بنوي زيارت لره ځي داسې بانه ده

يا دا چې:

هغه ورځ سخته ده چې بده جدايي راشي

چې بند په بند اوربل بېلېږي له جبينه سره

همدارنګه:

پرېکون يې وکړ صنم ودېرې نن بيا په کلي څه غلغله ده

کله چې وغواړې د خلکو پام د کليوالي معشوقې د ديدن ارزښت ته راړوي او د هغې د کړو وړو خوراک او پوښاک ستاينه له عنعنوي او د وخت له ارزښتونو سره سم وکړي نو څومره شاعرانه او نازکه چوکاټ يې ورته ټاکلی؛ دی وګورئ:

نذرونه ورکړئ د زيارتو که څوک يې ګوري

که لور د غريب دا کل اسباب يې شاهانه ده

د شیخ احمد خان شعرونه واقعا خواږه دي. خصوصا د ده چاربيتې خو په داسې خوږو او سروتالو کې ويل کيږي چې په ميدان کې ناستو خلکو کې به ډير کم کسان وی چې هغه خوښې نکړي ځکه ساده او کليوالی الفاظ

يې داسې او ډلې دي چې اورېدونکی ټه نېغ په نېغه هماغه محل، ګودر، چلم او کټونه ځيري ګرېوان وريادول:

د ميګی په شا کفګير په لاس ورته نايی راشي
کار يې تمام غوايي حلال کړی ما سپښينه سره

يا دا:

کراره شپه وه بهنوا درخنې لاړم
که لاس مې بر شي غونډه زنه به دې دارم

يا دا چې:

زلفان مې منګری پاس په سينه باندې ساتلی
کم بخته وېره وکړه چې کړم به شې له واره

دا او داسې نور خواږه تشبيهات او د ساده تورو استعمال او د هغوی د لطافت او خوږوالی اندازه هر څوک د شيخ احمد خان په خوږ او سوچه شاعری باوري کوي

شيخ احمد خان ډېر شاګردان درلودل چې د ده شعرونه به يې په يادو زده کول دی په خپله هم وايي:

ډېر مې په لغمان کې شاګردان وو
ډک ده زيارت له شنو توتيانو

خو دوه شاګردان دوه ډلې وو يوه ډله يې هغه کسان وو چې دده شعرونه به يې زده کول مګر ساز يې نه کاوه، خو کله به چې د دوی ملګری د بابا په مېله کې د نورو سيمو راغلو شاعرانو له لاسه بند او په تنګ شول نو دوی به ورته خان ورساوه په دغه ډله کې اسلمی، ملنګی، لونګی او توردلی مشهور کسان وو چې ملنګی او لونګی د لغمان مشهور سندرغاړی اشرف ماماګان وه او په دې نژدې کلونو پورې ژوندی هم و، خو د بدو سياسي شرايطو له کبله مو له هغوی څخه هېڅ استفاده و نه کړای شوه خينې خاطرې اشرف را ته بيان کړې. مګر د دو په هکله د شيخ احمد خان په شعرونو کې اشارتا او دلالتا هېڅ نه دي ويل شوي.

بله ډله يې مجلسي يا سندر غاړي شاګردان وو چې له تازونو سره به يې د خلکو د خوښيو په مجلسونو کې ګډون کاوه او د ده شعرونه به يې ويل، د دغو کسانو له جملې څخه د څو تنو نومونه ده په مختلفو شعرونو کې ياد کړي دي، خو په ټولو کې يې (ميرکی) ډېر ستايلی دی. دغه شاګردان محمد مير نومېده او د ښې حافظې او خواږه او ازلخښتن و د ده دغه هنريت

شیخ احمد خان څو څو خایه په ډیر قوت او شدت یاد کړی او ستایلی دی، لکه په لاندې بیتونو کې:

نشته داسې چې کړي له میر سره خبر
میر د سین په شان بهیرینه

دلې څوږې راغلې هر طرف په هره لارې
د میرکی په نندار وجلی او ...

داسې بریښي چې په دې وخت کې به یې دغه نیاز الله نومی شاګرد مړ شوی و چې ده داسې په افسوس یاد کړی دی، بل دا چې بازګل دی چې په خپله هغه هم شاعر و او یوه چاربیته یې مور په لاس کې لرو هغه یې داسې ستایلی:

بازیه پسې ورشه ژرینه رایې وله خوره
که څه یې درته ویلی په دې یې وباسه غابنونه

یاد دا چې:

بل مې بازګل دی مدام کاندي چپاوونه

یو خای یې په تشبیهاتي ډول څو تنه شاګردان یو خای کړي دي:

شات و نبات قند نیاز الله
خدای نور او میرکی مې څه ګفتار کا

کله کله د دې صفتونو سره سره له ټولو شاګردانو سر تکوي او ټول نا اهله بولي کره شاګردان نه پیدا کهږي

څوک شو جولا یا ن څوک ندافان را معلومهږي

شیخ احمد خان د خپل وخت په شاعرانو ډیر بر بولي د هغوی یې ډیره غنډنه کړې ده، تل یې تکولي دي او اخطارونه یې ورکړي دي لکه:

شاعران په دنیا ډیر شو غور پرې کهږده زما وروره
چې ګډ شي په میدان کې بیا دوی وکوي ګوابنونه

که څه یې درته وویلي میر وباسه غابنونه
له شیخه خبر نه دی هر نقطه لري لاسونه

د شاعری په باب یې بنه کره بحثونه کوم
په شاعرانو ټول د تورو ګوزاروته کوم

یوولسم

لاندې کړې مې کامه ده په قوت و کوئ پام
له کړې تر خپلواړه که وا ټول شي شاعران

د شاعرانو که په ما راشي لښکرې
نه ترې وېرېږم که د باب کاندې که غوري

شیخ احمد خان نسبت نورو شاعرانو ته دا ابتکار هم کړی دی چې د شنه رنګ لپاره یې دوه چاربیته او د ژېړ رنګ لپاره یې بېله چاربیته لیکې ده په داسې حال کې چې ځینې نور د شاعرانو د ټولو رنګونو لپاره یوه چاربیته لیکلې ده، خو د ده چاربیته له پیله تر پایه په یوه رنګ ځرخېږي. د ده یوه چاربیته یوازې د موجوده ژبو په هکله ده، البته دا د ژبو مکمله احصائیه هم نه ورکوي او کوم مهم پیغام هم نه لري، خو د ده د علمیت او معلوماتو اندازه او د نړۍ له ژبو او احوال نه د ده پوهه او خبرتیا ژر په ګوته کوي همدارنګه دی د بدخشي او کاشخاري ژبې نوم اخلي داسې معلومېږي چې د خپلو داخلي ژبو په باره کې هم لږ و ډېر معلومات لرلل.

خو د د ټولو سره بیا هم کله د نورو ولسي شاعرانو په څېر دوزخ ته نژدې تورو استعمال د قافیې ترلو لپاره که په لږه اندازه هم وي د ده په شعرونو کې لیدل کېږي، لکه: د اخلاص قافیه راوړل او لباس او خناس سره د قافیې لپاره د کلمې ماتول یااندوه په اندوی استعمالول. مومن له سنګین او غمګین سره قافیه کول داسې نور قافیوي عیبونه لري لکه (کانه وم، نېکنامه وم(،)کمرو، لېږو، دلاوره)، (د بام په سر، د کلا په سر، شال په سر(چې د داسې شاعر نه یې تمه نه کېدله.

کله کله یې یونیم سېلاب کم وزیات راغلی دی خو دا کموالی د موسیقی په پردوکې نه احساسېږي، ځینې وختونه بعضې کلمات په یوه چاربیته یا لوبه کې تکرار راغلي دي لکه: په پلار یې وېل نه کېږی باور زم، په دوه بندونو کې

یا د خوارانو کلمه په دوه بندونو کې لکه:

جوړه کړې ذ لوه هغه خوارانو، پورته یې رابنکوه هغه خوارانو. کله کله د شعرونو په بندو او کړیو کې څېې له مخې اختلاف مومو یانې د یوې چاربتې

یو بند اته کړی او بل یې شپږ کړی یا یو یې لس او نور یې ټول په اته یا نهو څپوکې راغلي و.

خو دلته د دې خبرې یادول ډېر ضرور بولم چې دغه شعرونه په خپله د شاعر یا د هغه د شاګردنو له خوا نه دي لیکل شوي، بلکې له دریم او څلورم لاس څخه مور ته را رسېدلي دي، بله دا چې زمور سندرغاړي او شوقیان هم اکثراً بې سواده دي او شعرونه غلط زده کوي او غلط یې خلکو ته اوروي، نو کېدای شي دغه نمیګړتیاوې، کمبودات، غلطی او نورو عیبونه د ده د شاګردانو، شوقیانو، را وروسته سندرغاړو کار وي نه د اصلي شاعرانو.

کله کله یې طنزیه کلمات هم استعمال کړی دي:

ناپاکه جوار اوړه کوي شیرمست دله دی

وایي چې شیرمست د تالاو اوسېدونکی او د دوی په سیمه کې ژرندګړی و، خو ده په دغه طنزیه یادونې سره د هغه یاد هم تلپاتې کړی او د څېړنکو لپاره دا هم یوه پوښتنه ده چې شیرمست څوک و او څه وظیفه یې لرله.

د محتوا له مخې د شیخ احمد خان شعرونه اکثراً مذهبي رنګ لري، خو د خپل وخت او خپل ولس او وطن غمونه او ښادی او بدې ورځې، رسم و رواج یې له یاده نه دی ویستلی او د هغوی په باره کې یې هر څه سپین او بربنډ ویلي دي او په خورو الفاظو یې بیان کړی دی. ډېرې دیني کیسې یې نظم کړي دي خو د پیغمبر ﷺ د هوسۍ معجزه کیسه او د حضرت یوسف علیه السلام کیسه یې زمور د سیمې کې او په ټول لوی ننګرهاري مشهوری دی د یوسف علیه السلام کیسه چې د چاربیتې په کوم فورم کې د موسیقۍ په پاڼې مقام کې ویل شوې ده ما ته داسې بریښي چې موسس به یې دی وي، ځکه تر اوسه ما د بل چا په شعرونو کې دغه فورم او طرز نه دی لیدلی او اوربدلی که له خان را وروسته کې چا ویلی او لیکلی وي هغه د ده کاپي ده.

که مور د احمد خان په شعرونو باندې خبرې کوو او د شعرې صنایعو له مخې یې څېړو نو ډېر شیان او لیکنې پرې کولی شو خو د څېړنې کار بېل او سریزه یا کره کتنه بېل مېتودونه او کار دی، نو اوس ددی د پاره په همدې بسنه کوو سره له دې چې دا ډېر لږ شعرونه دي خو د کیفیت په لحاظ دا

ډېر کار دی، که دا شعرونه چاپ او خپاره شي نو هم د پښتو ادب په لمن کې یوه نبکه او ښه زیاتونه ده او له بلې خوا ښه زمونږ د تېر هېرو شاعرانو یاد بیا تازه شي. خو د هغه چا د پاره چې په دې کار کې بې قدمه وهلی دی زحمت بې کاله له لوی خدای نه ورته اجر غواړم، نور نو زه خپلې خبرې لنډوم اول تاسې سره یو ځای د شیخ احمد خان د شعرونو د ګلبن خوږې بویې ته تم کېږم.

په درنښت

عاشق الله فریاد
ننګرهار - انګور باغ
۱۳۷۷-۳-۱۷

د دې ټولګې
په باب
څو لنډې یادونې

له نن نه شپږ کاله وړاندې ما د شیخ احمدخان د سندریزو کیسو په راټولولو پیل کړی و له یېکه مرغه دا دې تر دې دمه پردې لاسبرې شوم چې د دغه شاعر د یو څو لاس ته راغلو شعرونو وړه ټولګه سټاسې مخ ته کېږدم. ما د دې ټولګې شعرونه د لغمان د وتلو ولسي سندرغاړو (ګل محمد، پاینده محمد، خان ګل، اشرف) له خولې کښلی دي. همدارنګه مې دغه سندریزې کیسې څو ځلې له یو بل او کتابونو سره پرتله کړې دي.

له خپل زیار او کړاو وروسته مې د دغو سندریزو کیسو پاڼې د لغمان د یو پیژندل شوي شاعر عاشق الله فریاد په ګوتو کښنوې.

هغه د خپل اند او د آرې بڼې د اوربدنې په رڼا کې له سمونې وروسته راوسپارلې، زه په دې باوري یم چې د دغه سندر بول ډېرې نورې سندریزې کیسې به زما د قلم له کښلو پاتې وې، خو ما تر خپله دمه د دغو سندرو یو تت انځور سټاسې مخ ته کښنود، له بلې خوا مې نور نه غوښتل

چې دا شعرونه پاتې شی ځکه، پر دغو سندرو تر دې دمه څه کم و زیات یوه پیړۍ تېره شوې ده، خو د لیک جامه یې لا تر ننه نه وه پر تن شوې، تر دې دمه مور ته د موسیقۍ په پردو کې خوله په خوله رارسېدلی دي، خو دېرې بېلګې یې خاورې شوي او خورې ورې شوي دي. [illegible] ترکیدلو وخت په تېرېدو سره به دغو یو څو بېلګو هم د مرګ جامه اغوستې وای. نو د دغو سندرو پر خپرېدو مې خپله دنده ګڼلې کړه، له درنو لوستونکو او د ده د شعر له مینه والو څخه په درنښت هیله کېږي چې د دغې ټولګې د نورو شعرونو په راټولولو او د نیمګړتیاوو په پوره کولو کې لاس یو کړي او دغه سندرېزې کیسې د کتاب پاڼو ته وسپاري.

زه پردې باوري یم چې که څه هم دا سندرې به زمور د ننني شعرۍ بهیر له دریځ سره ملې نه وي. خو خبره دا ده چې دا زمور د ولس ژبه ده، په دې کې زمور کلتور او ژبه خوندي ده - زمور فکلوریک ادبیات په همدې سندرو ښایسته دي که د افغاني ادب په باب هر څوک څېړنې کوي نو خبره به لومړۍ له همدې سندرو څخه را پیلول وي په هغوی کې به زمور ژبه کلتور او تاریخ تر څېړنې لاندې نیسي. نو مور د همدغو سندرو په رڼا کې پېژندل کېږو، تاسې به په دې ټولګه یې یو شمېر د منظومې مذهبې کیسې ولولئ چې په هغه کې څومره قوت پروت دی، په څومره ښکلې ژبه او نرمو [illegible] بیونو کښل شوي دي. زه د دغې ټولګې په فني اړخ څه ویل نه غواړم خو دومره مو دې خبرې ته پام را اړوم چې همدا کیسې او همدا ملي وزنونه دي چې زمور ګڼې ادبیات پرې غني دي. خو په خواشیني سره باید ووایم چې لا تراوسه په سلو کې دېرش فیصده هم را ټول شوې نه دي او وړځ په وړځ د مرګ په منګولو کې ښکېل کېږي. لکه در واخلې د دې ټولګې د

سندر بول د احمدخان د قرآن عظیم د پښتو منظوم تفسیر چې نن یې تش نوم پاتې دی او بس، په دې اړه د پښتانه شعرا د دویم ټوک په پاڼو کې راغلي: د شیخ احمدخان د قرآن عظیم تفسیر په پښتو نظم کړی او دا خپل جاوید اثر یې د ملي ژبې په ادب کې پریښی دی مګر، متاسفانه دا مبارک کتاب اوس ورک دی ...(۱) دېر ځله به مو د ولس سندرغاړو له خولې منظومې مذهبي کیسې اوربدلې وي په دوی کې یو شمېر د قرآن او احادیثو نه اخیستل شوي دي، خو یو شمېر یې دي چې په یو کتاب کی به هم نه وي راغلی خو څرنګه چې افغانان مسلمانان دي نو پر دوی مذهبي کیسې دېر خوښې لګي نو اخر د هر ښک کار د پل پیل په مذهبي اړخ پورې تړي. د رحمان بابا پر پله دېرو شاعرانو ستاینې کړي، همدارنګه رحمان بابا په عوامو کې هم د خلکو په زړونو کې ځانګړی ځای لري - نو که خپله یو منظومه خبره وکړي نو هغه هم په رحمان بابا پورې تړي، نو دوی د اسلام سره د زیاتې مینې له کبله یو شمېر دېرې مستې او فکلوریکې کیسې منظومې کړي دي. خبرې سل او سر یې یو، اوس دا دی تاسې پوه شئ او د احمدخان د سندریزو کیسو انځور، خو په تلو تلو کې له درانه وزیر تراو څخه مننه کوو چې د دې ټولګې او دریو نورو ټولګیو د لیک د چارو مالي لګښت یې په غاړه واخیست همدارنګه له ځوان شاعر صدیق الله بډز څخه یو جهان مننه چې د دې ټولګې لیکلو ته یې متې رابډ وهلې، دا تاسې او دا هم سندریزې کیسې په سندریزو ولولو.

لعل پاچا ازمون

جلال کوټ

۲/۳/۲۷۳۱

دریم

غزل

شين چمن وکه خروش بلبلان ګرځي تازه
چې د حق پيالې کړي نوش زاهدان ګرځي تازه

دا مخلوق چې پيدا شوی د بابا ادم له پښته
نشال بندان نمد فروش خان په خان ګرځي تازه

مسلمان ځي بيا مکې له کافران ځي بتخانې له
بت خانه کې بت فروش شرابيان ګرځي تازه

شوندې ستا هسې خوږې دي که وې څکي لږ څوک
لږ ئې مست و بې هوش په بيابان ګرځي تازه

بله مينه په کار نه ده ماسوا د حق له مينې
چې بې زړه و کاندې جوش احمد خان ګرځي تازه

چاربیتي

زلفان دې منګرې پاس په سینه باندې ساتلی
کمبخته ویره وکړه چې کوم به شې له واړه

*

زلفان دې منګرې پاس په سینه باندې حصار — هیڅوک خو دا نه کړي لکته نامحرمان
نصیحت درته کومه د چا مه اخله ازار — پیدا به یا پوهه شي چې اوده ده کوي بهتان
نه خپل نه پرديو ګمې نه هیڅوک نه ویي بیان — پرون ما به دې منګۍ پرې باته هلته کړي ارمان
زړګي مې نه صبر پرې تا پرون ما ته خند لهسې
زلفان دې منګرې پاس په سینه باندې ساتلی
نور مه کړه پرې رڼې راځه چې څلوېسه دوا یه
کمبخته ویره وکړه چې کوم به شې له واړه

*

زلفان مې منګرې دې اشنه نه کا د چادم — چې د ریبه خوله کاندې څوک ته نه راځي ماته
که د یې یا پوهان راغلي دې په ټمه ټم — اوده لاندې نه کیږي واړه تلې دې احتیاط سه
علاج دې نه رسیږي خوشې څان نه کړې بوډم — په پته سړ د ډوډۍ خوار شې حال مه وایه چا ته
دا ته یوان چا نه یې ما د دې د نه وینه دې کې — زلفان مې منګرې پاس په سینه باندې ساتلی
که د یې ې عاشقان د ې بینوا را څنې لاړه
کمبخته ویره مه کړه چې کوم به شې له واړه

زه خپله پاڑه گرځیم زما یاد دې منترونه — آخر به په لاس تاو کړمه داستان لفې مینې
چې کړم د سینې لاندې په تا باسم ارمانونه — خولګې دې لکه شات زه به یې واخلمه شیرینې
په سپین مخ به دې بنخ کړمه داخل جرګه بنوټونه — اختر به شي ما باندې بیا به نه موسم غمونه
داستا جور وجفا ما په زاړه مترګې منلې — زلفان مې منګر یې پاس په سینه باندې ساتلې

زه تیر یم له خپل سره نه ویرېږم ستا له پلاره
کمبخته ویره وکړه چې کړم به شي لـــه واړه

*

شاعران په دنیا ویر شو خو بې ګډې زما وروڼو — چې ګډ شي په میدان کې بیا دوې وکوي ګواښونه
باز نیا پسې وښه تر ښه رایې وله خوږه — که څرې د رته ویلې مړې یې وباسه غابنونه
مرګیه پسې وښه اوس یې مخ کړه تر بې توره — له شیخه خبر نه وي هر نقطه لري لالـــونه
دې پلار د پښتنو هغه بد ذاتي نه بدلوي — زلفان مې منګرې پاس په سینه باندې ساتلې

چې یې چتې ګډې شاعرې بې کـــړه مـــر دا ړه
کمبخته ویره وکړه چې کړم به شي لـــه واړه

دا توري زلفي دي زنګيني ولونه ولمنسونه
په سينه تاب داري

درپسي راغله د مسګيو کتارونه
د مخ نوسس داري

* * *

دا توري زلفي دي په مخ باندي شانه کړي
ووتي لاګوره

توري دي زلفي په ګوګل دانه دانه کړي
د دي سوم بي اوره

خدايږو جانانه اخر ما به ديوانه کړي
مه ګرځه شاه توره

نامردي مه اخله د ويشتلو انارونه
خون مه کړه خونکاري

* * *

خان دي جلات کړه يا ره زه يم شمايله
خوښه يم په شور کي

دا دواړه زلفي مي پستي لکه مايله
واړه دي په زور کي

دامومندي زرګر اشناکه ننبي وله
ناسته يم په کور کي

په عاشقانو داسي تل کرم چيا وونه
خدايږو وهم لاري

* * *

يو دنيا يست هنګام دي لاړ په ولسو کي
خلک دي تا ببين کړه

ورشه په کور کي روپه د يري لري اوکي
ټيک مي د جبين کړه

تور لونګين مي د سيني په مناره کي
اس نيلي مي زين کړه

په عاشقانو په کار دي هسي وونه
پوه شه که هوښيار ي

ده احمد خان شیرین ویلې کوم له ځانه

خو شې عمر تیر شو

دنیا فانې ده اخر خو له دې جهانه

مرګ را ځنې هیر شو

شا مې ایسار کړ ای بخیمه[1] پهلوانه

وخت دې د شمشیر شو

میرګۍ مې بند شو د اوږې پر توره غږانه

بند مې شو لا ر ب

خښلي يې پياله ده د شاسري ستر کې خمار دی لپونې تلې په نخر وخلې
سر يې پټې په پښو د پيښور ماندې ګلدار دی قدم اخلي په ور ور وخلې
خښلي يې پياله ده

خښلي يې پياله ده چا ته نه ګوري له خياله تش کنل يې خه تاثير ګوره
بې قنده تې بن يې سپاس که بدري جمالله بې پښې يې زما د ملا په تيرګوره
څوک يې رنګوران کړ څوک پرانته دي يې مجاله څوک چې رانه دځان په ويرګوره
څوپندې ګاروني يې په وربل لري ګلدار دی ش نګاه يې دګل ګل وخلې
خښلي يې پياله ده

راغله په موسم د خوانۍ زلفې يې عمل کړه چې پرې لاس وهي غږ ښه
بل يې په سينه باندې رنګين ې چل و ل کړه په سپين مخ يې نه سازښه
بل يې پدو را نه باندې پرانته دي الول کړه په سينې باندې رنګين ښه
دمحياش نه کا پاره وګرځي کوکارې زه د ې سم کړم په غږ وخلې
خښلي يې پياله ده

زه یم یار وگړ محبوبې دم مې په تادم دے
غونډو کله برڅې پریدمه

غم له دې وداڼکې عقل مې برهم دے
د تبجن په شانې ریږدمه

تل مې داګریوان په سپینو اوښکو باندې نم دے
له وداڼکې لیږدمه

تل د عاشقانو سره مه کوه مرداړې
بیټوا ستا له دیر وجلمه

*
خټلې بې پیاله ده

زه احمد خان وایم ښې خوښې کیږي سندرې
نوره مې نه ټکې صبر یې نه

راشه ده زیارت ته هر شاعر کړي په ما غوږ دے
ټه ټه ټه وشې میږنه

نشته دا سې څوک چې کړي د میر سره خبرې
میږ"د سین په شان بهیږنه

دلې نخوښې راغلې هر طرف په هرې لاړې
میرکې به نندارو جلمه

خټلې بې پیاله ده

---

(۱) میر نومی د شیخ احمد خان شاګرد و .

دلیونو په شانې ګرځم مدام په غروکې
په زړه مې اوږې ستا غمونه انبار دي

*

دلیونو په شانې ګرځم مدام زار زار
کله ته بنکلې کړې نه خو لګه د څنې غوارم
کراره شپه ده بینوا دې څنې لاړه
کله لاس مې برشي غونډۍ زنه به ډک کړم

پرې به دعا نږدې درته وایم په ورو ورو کې
ما په تا بیني د دنیا، سر او مالونه
تکرار
تکرار

*

کله تې مین یې زه په تا نه یم مینه
په زړه مې نشي د غجن زړګي ساتنه
څوک مې بند مان کړه څوک مې ورکړه لږ وخت
کله دې باور نه شي څه وکړه پوښتنه

څنې سلګۍ کړې څینې ویر کړې په کورو کې
په غوږ واورم چې رنګ رنګ کسې اوازونه
...

*

زه همیشه کړمه خدمت د فقیرانو
تا به کړم لاندې اوده دارم دمارانو
زه په دایره کې یم د عشقانو
چې نه ویریږي د حاکم له هر سلانو

یو د خسا کسان په شانې پروت یم په ایرو کې
په عاشقانو باندې نشته نا تاروونه
...

که ته فقیر یې له حیا مه دا وړه — په دروازه کې راشه حل کړه ویړه
خو لګه به درکړم په تالاش له مایې — په انسانیت باندې یې ته مه منکریږه

توتي یې بند کړه د پولادو پنجرو کې
داسو پیزوان یې دي لږم زلفې ماروونه

+

زه احمدخان خوښ یې کیسې وایم سنډې — حبیبه خدایه دالعین کړې له مالړې
د شاعرانو که په ما راشي لښکرې — نه ترکې ویرېږم که دباب کا ندي که غوړې

میرکې ګلا دی د سندرو په مصرو کې
بل یې بازګل[1] دی مدام کا ندي چې پاونه

---

[1] بازګل نوم د لخان اوسید رنګی اود شیخ احمد خان شاګرد و۔
۱۲ میرکی " " " "

پریکون پې وکړ صنم ودیزې نن بیا په کلي څه غلغله ده

*

پریکون د لیلا وکړ ملا اوملنګانو بیګاه د کلي اوشقالانو
که زه شوم جلاله دې کلا واوړمځ یا رانو په بند شوه لیلا د رقیبانو
زړګی صبروم په درانزکله صبرېزي پریکون پې وکړ صنم ودیزې
دغم لایقه شاګرده دا زما کله ده نن بیا په کلي څه غلغله ده

*

راضي مې شو پلار تلوار کوي کافي ورته ګانه شونه ماد وارې مخ وزونه
په یکتنا صورت مې راغله انبار انبار غمونه موزې راوړې تول اسبابونه
دا شال وکمخواب چې په قیمته بیه کېزي پریکون پې وکړ صنم ودیزې
دا سره لاسونه بل مې چکن هزار ګله ده نن بیا په کلي څه غلغله ده

*

راضي مې شو وروبل مې مورګرځي خوشاله خبره به شي جلاله حاله
موزې وکړ پورګرځي سرتور خلاص شوله ماله که خلاص به نشي بیا له جاله
واخه چې درځو د بیلتانه ګله یال غږیزي پریکون پې وکړ صنم ودیزې
که خود مې کړی شاګرده نن په ماغوله ده نن بیا په کلي څه غلغله ده

فقیر احمد خان مدام د غم سندے وایم
شاګرد مې ده میر لکه ګجیر زه به پې ستایم
کم کوتی امام کله شي چې کله غږ ورته کړي
ناپاکه جوار اوږه کوي شیرمست[1] د له ده

کچکول مې ترڅنګ مدام ګدایم
د مړه نیاز الله ځني جدا یم
پریکون پې وکړ هسې ودیږي
نن بیا په کلي څه غلغله ده

---

(۱) - د شیرمست اصلي نوم ګل مست وه ، احمد خان د لمنز لپاره شیرمست راوړی ځکه دی د لټولو .

زیړه شوه نا څاپه لیلا رنګ لکه زعفران لري
سیل کا د زیړو ګلو میل د دامـــان لري

*

زیړه شوه نا څاپه مونږګی دی د زیړک په شان
زیړه ږ زیړه زیږ بریتونه ناست دی لکه سګ په شان
دا چې وار خطا یې هم د خولې یې راشي څنګ په شان
زیړې راته کاندي بلک په څنګ کې زیږ شیطان لري

*

زیړه شوه نا څاپه خوشبویي لکه نا رنج لـــري
زیږ شال یې په سر صندوق یې اینبی دا په لري
زیړه غرځنې شوه نظر باز په کر لـــري
زیږ یې جعفري ګلونه اینبی په زلفان لري

*

په زیږو بدمه وایې خلکو چې دا زیږ عجب رنګونه دي
زیږ ګوړی شکر ، ګوړی شکري نعمتـــو نه دي
دا زیږی غوړي دي خلکه دا یې حســـا بونه دي
وایي احمد خان چې جنډې زیږې شهیدان لري

مخ دې دی جومات صنم، شین خال دې امام دی
دمې لیده صبح و شام ښېنه د اسلام دی

*

مخ دې لکه لمر جلی، وختې د بام په سر
زه دې یم نوکر جلی، د دې ښیو شال په سر
لوړ د نړۍ وړو دې ګرځې د ګلا په سر
دیره ښایسته پې ته، ننۍ مې د ته پام دے

*

مخ مې د جومات په شان، راشه که مومن پې ته
څله ګرځې سرګردان، زه په کې څه ګناه پې ته
دا سې وایې عاقلان زه په، څه سنګین پې ته
سپینه خوله به د کړمه دا زما انعام دی

*

زه احمد خان ټاټړمه، ټګه نه مانه شوله
په ارمانکې لاړمه، دا سې ځانه شوله
خوله خو ځینې غواړمه، مسته بې ګانه شوله
فضل د الله کرم نوم مې پرې بدنام دی

ښ بیا لیونی نه له موږه سبق یې
زما یار ته لږه ځي دا یې بهانه ده

*

ښ بیا لیونی نه دا سې یاغي شوه په موږ کې
هڅه یې خو شوه په یوسف زوکي
یا د ربانه ده یا څه کیمه ده په ځلمو کې
له خیا له د ورې مشاه په غږ وکې
نن د ونه وړکې د نیا نو که څوک یې ګوري
که لږ د غریب د اکل اسباب یې شاهانه ده

*

یکه زه شوم غریب له مانه د ور ژاړه نصیبه
اشنا هي نه شو د بخ طبیبه
ویل د منصور بنه مشهور واوږ حبیبه
له مانه ګرځي ته د ور قریبه
له ستر ګو زما مدام له غمه باران اوري
د ر ګوتی زما لکه خاشخاش دانه دانه ده

دا زه احمدخان ویلی کړم زړه مې خوښیږي
کړه شاګردان نه پیدا کیږي
څوک شوجولایان څوک ندافان را معلومیږي
کچه یې ژبې کچه غږیږي
دوی لا نې وهي خو په معنا کې دي کمزوري
میرکوتی زړګی د قصو لویه خزانه ده

-o★★o-

اور دې کړ راپورې په بدن زما
تاچې په وربل روپه کتار کړې

*

زه به دې نوکر د موږ د سپلار شم
خو بنه يې داخل ستا په دربار شم
مستې يوه ورځ به دې په کار شم
روی د خدای وګوره څله قار کړې
شکر پاسه ما هوندې نوکر لرې
سپينه د سپورمۍ په شان بشر لرې
ودې سوم په سترګو کې اشر لرې
زه يم شين ټوټې تر بې ګلشن زما

*

دا هر هم حکمتونه د يار ګه لرې
يا په جب کې ته جادو مار ګه لرې
ټينګ شه که طاقت مې د يار ګه لرې
تاچې داخبرې بې ريبار کړې
بند په ځنځير د حاکمانو شې
يا به ته بالکه د فقيرانو شې

هلته به په جم دعا شفا نوشي
راشه عمل وکړه په ګفتن زما

*

لور د نوروزو بې دماغه یم
واوره یاره په زړګي اوجاغه یم
په زړه هوښیاره لکه زاغه یم
څوک لري دولت داسې اختیارګړي
سپینه مې اوږه سپین مې جمال دی
سپین مې هم د غاړې چمپر خیال دی
سپین بې درته وایم دامې مال دی
څوک به پوره نه کړي اغوستن زما

* *

زه احمد خان ستاد در غلام یم (۱)
بنه پیژنم ځان په عقل خام یم
شکر چې مرید د مهتر لام یم (۲)
راشه نوکه میل یې د در بار کړې
داسې ګای خو نشته په ملکو نوکې
ډیر دی مشهور په اولسو نوکې
څه چې ګلاب ګل دی په ګلو نوکې
زیره یې جنډه ده سپین کفن زما (۳)

---

(۱)- زه احمد خان د معشوق غلام یم۔
(۲)- بې شکه مرید د مهتر لام یم۔
(۳)- زیره یې جنډه هم کفن زما۔

ننۍ مې په بور حلک کې ولید شاه صنم
ګرځي د بنکار زنو په شان څار کا۔۱۱

*

جور وجفا پریږده ته مې یار یې
اوس به دې له ځان سره همنشین کړم
مستا په مخ بهیږ مې لاړ ې لاړ ې
اوښکې به دې پاکې په آستین کړم
پریوځه په سینه زما افګار ې
مل به دې د غاړې لوګلین کړم
وینه د خلکو منت بار ې
د موزګي ځای به تا ترین کړم
در به کړم په لاس کې د یار ې رقم
تیر به دې انګړ کې څوکیدار کا

دا نیم بیتی داسې هم ثبت شوې:
۱۱ ناسته د قاتلو په شان څار کا

ناسته دبور جل په سر بې پاته وم
تا مې په کوشر کې ننداره وکړه
چا لیدلی نه وم ښه نیک نامه وم
د مزې دیدن مې دوباره وکړه
سخته د سختې تیږه یوکانه وم
مابل پرې د بیلتانه ښاره وکړه
مه مرې جلمه وې دې دوړلې مانه غم
رب دې په جنت ستا مورو پلار کا

*

زه احمد خان یم د عاشقانو
دیرمې په لغمان کې شاګردان وو
ډک دی ده زیات له شنو توتیانو
بر په الینګارې موسلیانو
ګرځم د معنم په شاعرانو
څوک پې ګیږي څوک پې زخمیان و
ویره لرم مینه د یارانو
زړه پورې شاباز ته ادم خان و
شات و نبات قند نیشکر الله - خدای نور اویږی شرګنتارکا

کهیس یې شین اغوستی شنه لکه کوتره گرځي
په شنه جلګه ولغله د یار سره اوتره گرځي
له خندا وکه خوله دا ښکلې ناز پرې وره گرځي
یو شین خال دی ننداره یې د جبین کړه

* * *

زه شین توتي یم د تیرا په شنو کمرو گرځم
په شنو بنو نو ستا د حسن د لاوره گرځم
کلښین کې کله هسک په دې ننبتر واگرځم
شیکې تاکیږي سیل به بیا د شنه گبین کړه

* * *

زه احمد خان بیان د شنو کړمه شین یار لرم
نورو رنګو سره مې څه دې شین په کار لرم
په شاعرانو کې عجب شیرین گفتار لرم
شاه جنا کاندي زه یې د وب هجران پرسین کړه

هغه وخت سخته ده چې بنده جدا يې راشي
چې بند په بند وربل بيلېږي له جبينه مړه

*

هغه وخت سخته ده چې کورته يې ريبار ولېږي
چې د جلمه پلار ته يو ښه سړی هو ښيار ولېږي
پريکون يې وکړي غواړي ويجې تيار ولېږي
مانګه نکړيږي اسبابونه ټول خرد بار ولېږي
ديګه په شا ځنګيږي په لاس ورته نا يې راشي
کار يې تمام غواړي حلال کړي ما سپينيږنه سړه

*

هغه وخت سخته ده چې کار د دوی تياړ شينه
چې د واده په خيرو شي راغې يې پلاړ شينه
نه به يې خوب نه به خندا د وغه بيمار شينه
واړه غنونه د جلمه په سر ا نبار شينه
کافره د مه چې په لاس کې سلا يې باشي
نو عمر نرمه کوڅه يې او يې لونګينه سړه

UNIOA

هغه وړځ سخته ده چې توره وريځ غوړيږي ښه
توره تګه ويښته له سپين رخسار سره بيليږي ښه

...

...

...

...

*

کار يې تمام دی په پرې کيدي ښه دی لونه کوي
جلجه ژړيږي سوي سوي فرياد ونه کوي
دخسر کور کې دې څلور ورځې غمونه کوي
د پښو اښو همزولانو ارمانونه کوي
چې بيا به او وه د پلار کور ته مخلصاني راشي
هره خبره د خسر لګي ايښنه سره

*

PROPERTY
ACKU
7748

خوا ښې خسّر بې په کالـه کې غلیمان شینه
کور کې منت کا دا په فکر کې د ځان شینه

. . . .

. . . .

چې کله کله په کم بختې قـا بلې راشې
هره جـړه د خسس . . . .

*

زه احمد خان یم د سوندرو بیا نه نه کوم
د شین توتې په شان سوې فریاد و نه کوم
په شاعرانو تل د تورې گونـاه و نه کوم
د شاعر محه په باب کې سنه کړه بخښو نه کوم
شاعر نه گورې هره ورځ په خطایې راشې
نه یې تیوس سیالي کوې بازو شا صینه سره

د اچار بیته تر دې د مـه نیمگړی ثبت شوی.

که نه وای پاک نبي نه به وه محکم اسمانونه
د پاک نبي لدرويد خدای پيدا کړه عالمونه

*

اتلس زره قامه د دنيا په سر دلداره
. . . . .
. . . . .

خوښ وو نيسه شاگرده چې زه کړمه بيا دونه

*

پښتو په شا ني ژبه پيسته لفظ لکه د قند
بيشکه مشهوره بخارا په شمر قند
. . . . . .

. . . . . .

*

يو لفظ دنورګرو لکه دوه تيز پي تګول
چتي دهقان ته ګوره د خپل ژبې شرمول
کاشغار په بدخشان ترکستان لفظونه خپل

بې غيره د دې لغتونو بې معنا دي نور لغتونه

یو لفظ دی احیاني بل کلیاني بل سریاني ده
زمون په ترابرکې مشهوره افغاني ده
اخون موسلی نه پاتې پښتنو ته ودانې ده
مقصد مې شو تیار چې شریعت بیا خوینه

*

پاچا دی د لفظونو اول لفظ دی د عرب
قران یې رالیږلی عربي زمونږه رب
ایمان پرې قاسي راوړی مشرق او مغرب
دې پکښې پښتو ویشت زره تیرشو نوس دې حرفونه

*

که وایي احمد خان چې زه بیشانه ګنهګار یم
د شا پیټی مې د وفدګ دګنا وړلاندې بار یم
.....
راتول شئ شاګردانو پیغمبر سلام ته ځونه

* دا چار بیته هم نیمګړی ثبت شوی.

کیسه یې چاربیتی

نوی باب مې اوریدلی او س یې کړم درته بیان
رنګا رنګ کړم ګڼتاروونه د تفسیر له روایته

*

زه په صدق مسلمان یم ثنا وایم د الله
حمد منت وایم ګوماني یم شروع کړم په بسم الله
د شریعت په لار روان یم ما ترې ټینګه ملا
نه امت د چلوان یم دی په وار وکړي حالي

زه بې حده ګنهګار یم کله مې وبخښي رحمن
په محشر کې امید وار د نبي له شفاعته
رنګا رنګ کړم ګڼتاروونه د تفسیر له روایته

*

حکایت وایم په څه ډول د عمران وایه حال
کار یې جوړ د غایبه دی ولي و با کمال
نوی او لور ته و په ټمه ښځه شوله بې جنجاله

.....

.....

.....

عاطفي نارہ پرې وشوہ بنده مرکوہ کیله
ستا مراد به زه حاصل کړم د اولاد په مامله
عمران ورځې کاله ته ښځې شوله حامله
نصه میاشتې شوې پرې تیرې دا په درد وپوهیدہ

ښځې لور وزیږوله د یرافسوس کاوه عمران
یو درب نه اس وشو زما راکړه امانته
تکرار

*

عمران لور یوې مسجدته په محراب کې وه پرته
ذکریا لاړه لمانځه ته دا جلجله وشړیده
ذکریا واخیسته په غیږ کې خپل کاله تږې بوتله
ګهواره یې کړه ثابته ګهواره کې شوه ویده

شپې او ورځې تیریدلې بې بې نه قرارېده
ذکریا واخیسته غیږ کې په مسجد کې کیښوده
ادمي وړته پلمه وه پروړش و د سبحان
ذکریا برخه موندله کړه دمریمې له خدمته

دې څلور کالہ پېرې تیر شول بې بې ژړ ژړ لویده
حیران یې وا خیسته سوانه شوه پریښې او سیده
هر طرف ددې نامه وه بې بې د ین څرشنا لیده
په دې ښار کې ددې ترور وه بې بې هسته کله تله

په دې ښار کې ددې ترور ورته ولاړه په ګریان
بې بې بې مریم خبره شوه د خپل له بلـــو غټه

*

چې له حیضه شوله خلاصه بې بې راګله ته وخته
هره خوا به ګرځیدله پوهکنده یې و مـــونده
جامې وویستې له تنه بیا یې و نیـــوه بـــرده
دا له سبقو پیدا له خدای پې پښې کړو نارینه

خدای له کوهم طرفه پښې کړو ښایسته نورانی خوان
خوانه مخ را څنې واړوه زه یم ناسته بې سیرته

*

خوان ویلې جبرائیل یم خدای لیږلی په تلوار
سپیڅلې نه یمه اصل یم نه چنګر یم نه چمیار
غواړم د خدای له لوی راغلی ستا د حمل کوم کار
زه د خدای له خوا وکیل یم زوی به درکاندې بې پلار

تخم دې زما په خوله کې تر دې بیره ته کړه لبان
تخم یې پوکه ددې خوله کې لاړه رحم ته اوچته

*

د دې څلور میاشتې شوې تیرې دا له بیته شوه جدا
جزئیان یې وې پسې وه پسې وې تې لـــه مـلا
.....
دا د خلکو له پیغور ه ګرځیده پټه په غـــلا
نهه میاشتې شولې تیرې دا لسمه یې په شمار ان
چې حضرت عیسیٰ پیدا شو خوږ یې را غلې له جنته

*

یې بې زوی په نندا ره شوه ځلیده لکه مهتاب
یوه ډله را ښکاره شوه چې راتله د یرې په شتاب
بې بې خدای ته په نا ره شوه ته قادر یې کل اسباب
نور مې نه رسیږي قوان زه به څه وکړم جواب
خدای ویلې خان دې ګونګ کړم زه بې کړم ترې ګویان
سوال ځواب یې ره دې کړی قرې خلاصه له منته

بې یې زوی په غیږکې واخیست په ادب یې یادکړ، ویې
دخپل مقام مخې ته لاړه ددوی یې ویې وکړو ادب
دوی ویلې تابدکارکړی په واړو کسې اقرب
حرامي زوی دې راوړی دی په غاړه بد نصیب

عیسیٰ ویل مور مې دغه لایق نه لري دطعان
سوال خواب ورسره نه کړم مور مې خلاصه لږ منته

*

عیسیٰ ویلې رښتیا وایم تاسې وکړئ باور
له اسمان څخه اوایم زه پیشکه پیغمبر
زه د خدای له نور پیدایم یم له اصله بې پدر
اصلي ځای مې په اسمان دی لږ به اوسم په جهان
د دجال په زمانه کې به زه هم شمه را ښکته

*

د عیسیٰ په دین راضي شوه دمریې خیلخانه
قول بنانو تر عرضي شوه ... عرض یې کړ شاهانه
هریو ځان له قاضي شوو ورته وریې کړه تانه وطعنه
هره چاره ناسانې شوه ورته ویې کړه یانه

عیسیٰ دین چې چا قبول نه کړ هغه قول شوک کافران
د حضرت عیسیٰ دوه به غږیزې تر قیامته

د الله کړم صفتونه د کل عیبه دی دی پاک
نه پې خوله شته نه غوږونه نه خوراک شته نه پوښاک
حکم کا ندې له قدرته په همه واړه افلاک
نه پې ستړ ګې نه نه دام شته نه پې دم نه پې هلاک

که دیدار د مولا غواړې په خدای راوله ایمان
...
د الله کار وینه واړه معلومیږي له قدرته
...

*

احمدخان زما ناڅه ده یم مریې د محترلام
دده نور زما جامه ده ما پرې اینبی ننګ ونام
لاندې کړی مې کامه ده په قوت وکاندۍ پام
هرطرف مې هنګامه ده پخه کړې مې انعام

له کړې ترخیلیاره که راقول شي شاعران
نوی باب مې اوږدلی اوس پې کړم درته بیان
خدایزو زه هیڅ نه ویریږم مرصاراله ویرحکمته
رنګا رنګ کړم ګفتا روینه د تفسیر له روایته

—••○••—

خوخ شو په گوگل کې دزړه سر زما
وایم د یوسف کیسه یارانو

*

حضرت یعقوب د یوسف پلار و
دولس یې زامن وارې په شمار و
دی په پاک اللّٰه باندې ډیر وفادار و
مارومنګی ترینه بیزار و
ګران ولد دې نوم و بیادرانو
وایم د یوسف کیسه یارانو

پیوت و بیګاه خوب یې په بستر ولید
ګانته یې په سجده شمس و قمر ولید
ستوری یولس ښکارا ښکر ولید
رانې په پرده کې یې خپل پدر ولید
خوب هم په دې شان ولید پدر زما

*

وړو نړۍ خبر شو له دې حالـه
زاغله پلار ټکینا سته فې الحالـه
زوی دې را سره کړه خو ترجګاو
سوی اوګیو پر نیسو په تا نو یا نو
دی به برابر په اوږو یاس وړه
مونږ یې داړه وړونه په اخلاص وړه
مونږ به یې د ډډونو په وسواس وړه
پلار یې ویلې نه کیږي باور زما

*

پلار یې ویلې زه به زرګې لوی کړم
څویرښتنې زه په انـدوی کړم
اوښې به په سپینه ژبه توی کړم
دی را باندې ګران دی د چشمانو
بې ستړګو لیده به شوا خونشي
ماه به مې له تنه را بیرون شي
واورځ نما ویره له بیلتون شي
باغ دی رسیدلی په ثمر زما

پلار یې دلاسه په خوشحالۍ کې
په رخصت یې پلار ځنې روان کې
ژړې تر یې پناه هغه زمان کې
خوشې یې کله په کانو په زړو زانو
تکرار
پښې یې، خو بیا یې یاد بې پلار کې
ګل یوسف به دار نګه ګفتار کې
دوونو یې واړه هم به یې قرار کې
هر یو ویلی ودې لید هسې زما

*

دوونو یې ویلی یو تر بله
دا مدعا به څنګه کې و حاصله
هر یو غږیده له خپله دله
وې لیده کوهي ځای د مارانو
تکرار
واړو هلاکت وه ته اختیار کې
ته کوهي ته یې ګوزار کې
خدای هم جبرائیل پدې راوځار کې
وویل جبرائیل ته برادر زما

---

(۱) بې - بدې

هریوه ویلی دا ټ مـا دے
هریوه ویل غم یې پـه مـا دے
نه پوهیږو ستوری د سبا دے
هریوه کنځل کړه پـه مشـرانو
دعا زمونږ اغاصونږ نوکرانه یو
دعا زمونږ پاچا مونږ مزدورانه یو
شپه ورځې د ټا ته یې ږوان یو
ویلی یوسف مخ دی لکه قمر زما

*

د قافلې مشریې ملکۍ و ـــــ
ورونه یې وړ ته را غله په خولۍ سیکۍ وو
دا مریۍ څو ورځې له مـونږ وړکۍ وه
تعبیښته یې عادت دی عـزیـزانو
مونږ یې خرڅوو که ته یې پیرۍ
ای ملکه ټ چې ډیر زهیر یې
دی به وخریې زمـونږه ښـیرۍ
ښیې ته حیران وې سوداګر زما

هلته يې دی کينا وه په تاق کې
ناست و په اندوه او په فراق کې
خدايه زه به د مرم په اطراق کې
راغله نهمتونه له خاصانو
تکرار
توبه کومې له نوره څراغان و
مار منګری ته يې ګريزان و
هلته جبرائيل وو ته حيران و
وو يې جبرائيل کينه په پرزما

*

وو ونه يې تازه راغله له لاهې
د وغو مسلي يې کړې تيارې
هلته يې خپل پلار ته کړې اظهارې
پلاره يوسف وخو ستر مېنانو
تکرار
وازې خولې راګم په سپين ميدان و
دی يې خوله کې د ښو ګريزان و
موږه تښتيد څومره چې توان و
پلار يې ويلې نه کيږي باور زما

حضرت یعقوب ټول پې ګورګان کړه
واړه پې حاضر هغه زمان کړه
خدای په سپینه خوله وټه ګویان کړه
وکړه سوګند و نه شرمسبا نو
تکرار
حضرت یعقوب وړغی کور ته
حال پې وویل د یوسف مور ته
خدایه موږ دې و نیولو او ورته
خور پې ویلی بای د عالو د بیا د زما

*

خور پې روح افزا وروړې امین وو
دواړه په یوسف پسې غمګین وو
حضرت یعقوب نه ګوتی خورین وو
یلاړه یوسف وخوې فرزندانو
تکرار
ټول بر پې دکلي هلکان کړه
حضرت یعقوب زړګی شادان کړه
شکل بر پې د وسپانه پرې چشمان کړه
بوی کړه ترینه راشي د پسر زما

ناګهان راغلی یو کاروان و
له کنعانه مصر ته روان و
پاتې یوه شپه په هغه مکان و
چې وه کړه دلوه هغه خوارانو
هلته پکې بنده پې د یسمان کړه
بنکښته پې کوهی ته لویزان کړه
لاندې پې کوهی ته یک امسان کړه
ناست و په کوهی کې چاندې زندان

*

ناګهان دلوه راغله له پاسه
و نیو جبرائیل په دواړه لاسه
کیناوه دلوه کې له اخلاصه
چې ته پې راکښوه هغه خوارانو
لاس پې شو تماکې دعا سنګین و
څو به پې صفت کړم نازنین و
واړه کاروانې و بې ته غمګین و
وخوت له کوهی شمس و قمرنیما

یا به یې راته ښیه په سلګون کړې
یا به یې راته ښیه په زرګون کړې
او س به دوی زمونږ منځ ګې بیلتون کړې
ښیه یې راته وایئ خپلوانانو
وایې خلیږ فراق کې دې بندی کړئ
یا یې بندیوان په لاس بندی کړئ
ټوپیره ورته خوره یې خو بندی کړئ
تښتته یې عادت ده برادر زما

*

دولس پیسې واخیستې روان شوه
وایه له دیر خیاله خوش خندان شوه
هغه ده خدای په ده احسان شو
وایې که ارزان هغه اخیستو
دقافلې مشر ترې روان کړه
خدای متفرقه پرې کاروان کړه
مصرکې یې بند هغه زمان کړه
وایې کاروانې مشک وعنبر زما

زه احمد خان دده زیارت فقیر یم
او بنگی تویوم یم زړه زهیر یم
ولي نیاز الله مرید د پیر یم
جوړه مي داداستان که شاعرانو
شه خوږه کیسه ده قران
شاه نبي د کونو پهلوان
لحم په ما وکوه سبحان
په روح د محشر واخله خبرنها

*

کیسه

دواړو کونړو پاچا خیر البشر دی
معجزه به د هوسه کړم درښانه

*

د الله نومونه دیر یې احد دی
په کې ښکلی د نبیؐ نوم یې احمد دی
میم چې دوه شي دده اسم محمد دی
خلک وایي چې بابا آدم یې جد دی
لا اله نقشه یې کښلی عرش پرسر دی
دمعراج په شپه خپله ستر اسمانه،

دواړو کونړو پاچا خیر البشر دے
معجزه به د هوسه کړم درښانه

*

یوه ورځ پاک رسول ته چیرته یې کار و
په خوښه سره روان په لوړه لار و
صیاد لومه ښنبی وه نیت یې دښکار و
هوسه ونښته بشریې خوار وزار و
هوسه ویلی چې راځه دا پیغمبر دی
هوسه ناسته وه سړې سترګې لرګریانه

دواړو کونړو پاچا خیر البشر دے
معجزه به د هوسه کړم درښانه

هوسې ویلې منه چې راغلې و متینه
زه یم بنده دا صیاد مې نه پریږدینه
تې مې ټک پیه مې په مخکه تویوینه
زما بیرته دوه پیچې له لوډې مـــرینه
منه چې راغلې نن ساعت په مـا اختردی
که ضامن شې د دوه کـو نو پهلوانه

دوارې کونوکې پاچا خیرالبشردی
معجزه به د هوسې کړم دې بیانه

*

پاک رسول بیا ویرته ویلې صیاده
دا هوسې له خپله بنده کړه ازاده
هر ساعت راته ژړیږي نامراده
صیاد ویلې دغه کار ته مې خندا ده
دا وعشي دده په لفظ څه باور دی
لمر سپورمۍ شرمیږي ده دمخ له میانه

دوارې کونوکې پاچا خیرالبشردی
معجزه به د هوسې کړم دې بیانه

*

د هوسې وعده پیکښوده پنځه ویشت ساعتونه
پاک رسول ورباندې راښکول لاسونه
هوسې خوشې شوه هیاپې واخیستل ګامونه
تر پیر پورې تله دا په تویې پونه

کپړو ویلی چې دا غږ سو د مادر دی
دواړو کونړو کې پاچا خیر البشر دی
په بچیو باندې پریوتہ پریشانه
معجزه به د هوسه کړم د بیانه

*

هوسه ویلی بچو بنده وم په لومه
ستا سو بخت وه پاک رسول راغی له کومه
ما ورغږ کړ چې صیاد نیولی ومه
دی ضامن شو ما ته یې وویلی چې دروغه
ژر می روئ چې په مخکی می مغر دی
دواړو کونړو کې پاچا خیر البشر دی
څو ساعته وعده موږه ښې جانه
معجزه به د هوسه کړم د بیانه

*

بچو ویلی موږې دا عقل دې خام دی
چې ضامن دتا نان که گل اندام دی
موږ یې نه روو ستا تې په موږ حرام دی
پیرته د روسه چې قبول موهغه دام دی
پاک رسول د هر بلاڅه مخکې سپر دی
دواړو کونړو کې پاچا خیر البشر دی
موږې د روسه رسول خلاص که له زندانه
معجزه به د هوسه کړم د بیانه

ACKU

هوسیه بیرته پرتلـــوار و خوزیدله
یو د بادواو د برق په شان به تللـه
مدعاګای ته په چسپته ورسیدلـه
پاک رسول ته په خدمت و دریدلـه
پاک رسول ویل هوسیه مرغه بې پردی
په پښځه ساعته راغلـه لـه بیـا بـانـه

دواړه کونډې پاچا خیرالبشر دے
معجزه به د هوسیه کړم د بیا ښه

*

هوسیه ویلی زه لـه مرګه نه ډاریږم
د صیاد په لاس مې ورکه خوشالیږم
ته وبرخه الله دې مل زه پاتې کیږم
پاک رسولـه هر قدم نه دې جاریږم
دا صیاد د تالـه دینه مـــرور دے
ځګروش نې لاړوي په هـر زمـانـه

دواړه کونډې پاچا خیرالبشر دی
معجزه به د هوسیه کړم د بیانه

PROPERTY OF ACKU 7748

د دانش کتابخانې له خوا نور خپاره شوی اثار

دشګې ګل	سید کمال د ننګرهار ولسی شاعر
قلم او قیام	د لغمان ولسی شاعر عبدالرحمن علینګاری شعرونه
برګودر	د ننګرهار ولسی شاعر توکل شعرونه
منګولی	د لغمان ولسی شاعر سید باوو جان شعرونه
سندریزې کیسې	د لغمان ولسی شاعر شیخ احمد خان شعرونه
نجنې ستر ګې	د لغمان ولسی شاعر بسم الله ګلکار یوال شعرونه

دیګونه او شعرونه	طنز شعرونه - کاتب پاڅون
دولتی موټر	طنز داستانونه - کاتب پاڅون
پندونه او خوندونه	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
د بنجاره هتی	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
سړی څنګه بنځه شوه	طنزونه - کاتب پاڅون
د بنار په ستدیوم کې	د مهاجرت طنزونه - کاتب پاڅون
دوه مخی کسان	طنز - میرزا علم حمیدی
وری څنګه لیوه شوه	طنز میرزا علم حمیدی

له مابنامه تر مابنامه	پیر محمد کاروان شعرونه
چنار خبرې کوی	پیر محمد کاروان شعرونه
څانګې څانګې ارغوان	نورالحبیب نثار شعرونه
خوته خبرې کوه	حسینه ګل شعرونه
د تاووس بنکه	د مصطفی سالک شعرونه
رجړومه	د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه
ډیوټ	د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه
د پښتو شعر هندسی جوړښت	د اسماعیل یون
افغانستان څنګه تباه شوه	جنرال رحمت الله سایی
سړې لښکرې په افغانستان کې	د داود جنبش ژباړه